مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۰۷

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (دری اویاېمه برخه)

**ډاکټر نجیب الله**

د اختر محمد زوی او د پکتیا د احمدزیو د قومي مشر غوث الدین جانداد لمسی په ۱۹۴۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سوی دئ او ورپسې د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې شامل سوی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې د پرچم دډلې غړی سو او په ۱۹۶۹ز کال کې د خپلو سیاسي فعالیتونو له کبله زنداني سو. په ۱۹۷۰ز کال کې ئې خپل تحصیلات له سره پیل کړل خو یو ځل بیا زنداني سو. په ۱۹۷۵ز کال کې د طب له پوهنځي څخه فارغ سو. په ۱۹۷۶ز کال کې ئې د عسکري مکلفیت دوره تېره کړه. په ۱۹۷۷ز کال کې د ګوند د مرکزي کمېټې غړی سو او په ۱۹۷۸ز کال کې د انقلابي شورى د غړي په توګه وګومارل سو. د ۱۹۷۸ز کال کې د جولای په میاشت کې د تهران سفیر وګومارل سو. د ۱۹۷۸ز کال د اکتوبر په میاشت کې بېرته افغانستان ته راوغوښتل سو. د خلقیانو د واکمنی پر مهال تنزیل مقام سو. لویدیځې اروپا ته په سفر لاړ. د کارمل د رژیم له راتګ سره سم بېرته هېواد ته راغی او کار ئې پیل کړ. له ۱۹۸۰ د ۱۹۸۶ز کال د جنورى تر میاشتي پورې د خاد[1] رئیس. په ۱۹۸۰ز کال کې د مرکزي کمېټې منشي او د انقلابي شورى غړی. په ۱۹۸۱ز کال کې د سیاسي بیرو غړی. ډاکټر نجیب د پرچم په جریدې کې څو مقالې لیکلې دي. نومړی د ډاکټر انس له خورزې سره واده کړی او یوه لور لري. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده. د ۱۹۸۶ز کال د مي په میاشت کې د ببرک کارمل ځای ناستی سو چې ولسمشر او د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند رئیس سو.

**نجیب الله توروایانا** : وګورئ : توروایانا [2]

---

[1] - خدمات اطلاعات دولتي یا خاد د ک. ج. ب نوم دی چې په روسي کې Комитет государственной безопасности (КГБ) یا د دولتي امنیت کمېټه کېږي. – اخذ : ویکي پیډیا - ژ

[2] - تور وایانا یو زښت ډېر لرغونی نوم دی چې د ۲۰۰۰ کالو مخکې مسکوکاتو پر مخ د لقب په توګه لیکل سوی دئ او معنی ئې توره وهونکی دی. - ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## میر محمد عثمان نالان

د میر محمد شمس الدین زوی په ۱۹۲۴ز کال کي د کابل په چهاردهي کي زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئي په چهاردهي کي کړي دي. د ملک الشعرا تر لاس لاندې ئي زده کړې وکړې. د حکومت په بېلابېلو اداراتو کي ئي کار کړی دئ. شاعر.

## مــحـمـد گلاب ننگرهاری

په قوم مهمند د مولوي میراجان زوی په ۱۹۲۸ز کال کي د ننگرهار د کامي په گوشتي کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۳ز کال کي له عربي دارالعلومو څخه فارغ سو او همدلته له موسی شفيق سره ملگری سو. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۳ز کال پوري د اقوامو په وزارت؟ [3] (قبايلو په رياست – ژ) کي د اطلاعاتو مدير. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پوري د عدليي د وزارت منشي. په ۱۹۶۶ز کال کي د رسمي جريدې مدير. د بيهقي د مطبعي مرستيال رئيس. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸ز کال پوري د راډيو افغانستان د اطلاعاتو عمومي مدير. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د راډيو افغانستان د نشراتو مشر. په ۱۹۷۰ز کال کي د صدراعظم محمد موسی شفيق د تولنيزو اړيکو افسر. په ۱۹۷۰ز کال کي د قومونو د وزارت مرستيال وزير او له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې ددې وزارت وزير. شاعر هم دئ. د داؤود له کودتا وروسته ددريو کالو لپاره د مهمندو سيمي ته لاړ او ورپسي پېښور ته وتښتېد. له ۱۹۷۹ز کال راوروسته ئي په پېښور کي له صبغت الله مجددي سره مرسته کوله.

## استاد فقير محمد ننگيالی

موسيقي پوه او کمپوزر. په موسيقی کي د تورکي استاد فرخ افندي شاگرد.

## علي احمد نقاش

د محمد حسن زوی د امير حبيب الله خان د واکمنی پر مهال د کابل په چنداول کي زېږېدلی دئ. په نقاشی کي ئي شهرت تر لاسه کړی وو. د کابل د ښکليو هنرونو د ښوونځي يو له لومړيو ښوونکو څخه وو. د ۱۹۴۰ز لسيزې په ترڅ کي ئي پخواني پادشاه محمد ظاهر ته د میناتوری درس ورکړی دئ. د ۱۹۵۰ز لسيزې په اوږدو کي وفات سوی دئ.

## مير حسام الدين نقاش

په غزني کي زېږېدلی دئ. دی هغه نقاش دئ چي د امير عبدالرحمن د سلطنت پر مهال ئي وده وکړه او شهرت ئي وموند. د نقاشی هنر ئي له خپل پلار مير نعمت الله څخه زده کړ. تخصص ئي رنگ آميزي وو او دوه بېلگي ئي اوس د کابل په لرغونتون کي سته دي. همدا شان د قرآن خطي نسخه ئي هم ليکلي ده. د امير امان الله خان د واکمنی پر مهال وفات سوی دئ. (۱۹۱۹- ۱۹۲۹)

---

[3] د ژباړونکي يادونه: فکر نه کوم چي د ۱۹۵۴ او ۱۹۶۴ز کلونو تر منځ کي د اقوامونو په نوم کوم وزارت جوړ سوی وي. خو د قبائيلو په نوم يو رياست وو. له دي کبله زه ئي دلته يوه تېروتنه بولم.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

## محمد حيدر نقاش

د کابل په چنداول کې زېږېدلی دې او څه دباندې ۱۰۰ کاله عمر ئـي کړی دئ. نقاشي ئـي له خپل پلار څخه زده کړې ده. مجسمه جوړول ئـي له يوۀ آستريايي څخه زده کړل چې د لومړۍ نړۍ والي جګړې پر مهال ئـي افغانستان ته پناه راوړې وه. د امير حبيب الله دواکمنۍ د مهال هنرمند.

## مـحـمد حسن نقاش

د مـحـمـد صادق زوی. د مير حسام الدين شاګرد. تخنيکي رسام او همدا شان يو متبحر نقاش. د امير عبدالرحمن (۱۸۸۰ – ۱۹۰۱) د واکمنۍ پای ته نـېـږدو کلونو کې ئـي نقاشي پيل کړه. د شهر آرا په برج کې ځانته يوه ستوديو لري.

## محمد رضأ نقاش

د کابل په چنداول کې زېـږېـدلی دئ. نقاشي ئـي له مير مـحـمدعلي څخه زده کړې ده او د امير عبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال ئـي له مير حسام الدين سره همکاري درلوده. په رسامۍ، رنګ آميزۍ او ساعت جوړولو کې ډېر ماهر وو.

## ديوان نرنجنداس

په خټه پنجابي افغان هندو. د ۱۸۵۳ز کال په شاو خوا وو کې زېـږېـدلی دئ. په کابل کې سر محاسب[4] پلار او نيکـۀ ئـي دواړه په کابل کې په کار مقرر ول. امير حبيب الله خان ورسره ډېـر بـښـۀ چلند وکړ او ډېـر اعتماد ئـي ورباندې درلود. د معاشاتو فرامين تر هغو نـۀ مهر کېـدل او نـۀ ورکول کېـدل چې نرنجنداس ورباندې لاس ليک نـۀ وو کړی. ورارۀ ئـي رام کيشن د ۱۸۹۹ز کال په شاو خواوو کې مسلمان سو. نرنجنداس ته په ۱۹۰۶ز کال کې د ملکي ډګروال اعزازي رتبه ورکړل سوه. د مير احمد شاه تر لاس لاندې سو. په ۱۹۰۶ز کال د نوامبر په مياشت کې د ماليـاتو د رياست مشر. په ۱۹۱۲ز کال کې ئـي له مستوفي مـحـمد حسين خان څخه د ګمرکاتو او ښارونو ته د ننوتونکو مالونو پر سر د ماليې راټولول په ټوله افغانستان کې په لاس کې واخيستل. په ۱۹۱۹ز کال کې راولپنډۍ ته د افغان پلاوي په ترکيب کې د راولپنډۍ د سولې کنفراس ته لاړ. د ۱۹۱۹ز کال د مارچ په مياشت کې مستوفي الممالک سو. په ۱۹۲۰ز کال کې ملکي بريګيډيير سو. په ۱۹۲۰ز کال کې د ميسوري په کنفرانس کې د افغان پلاوي غړی.

## دلدار نړۍ وال

(د غوايي له پاڅون وروسته) د افغان سوداګريزو اتحاديو د مرکزي شورۍ منشي

## حاجي مير عبدالله نثار

(د سيد جلال بخـارايي له اعقابو څخه) د مير عبدالجليل خلمي زوی په ۱۹۰۵ز کال کې په خلم کې زېـږېـدلی دئ. د حکومت په بـېـلابـېـلو اداراتو کې ئـي د سر ښوونکي، عمومي مدير او د سوداګرۍ د رياست د مرستيال په توګه کار کړی دئ. مزار شريف د سوداګرۍ د خوني منشي. زده کړې ئـي په زرګرۍ، نقاشي او ميناتوري کې کړې دي. شاعر هم دئ.

---

[4] -Accountant General


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**حیات الله ناصر**

د کوهدامن له شکر درې څخه دئ. د کابل په دارالمعلمینو کې ئـې تحصیل کړی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کې ئـې د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي څخه خپل لیسانس تر لاسه کړ. همدا شان په لندن کې ئـې هم زده کړې کړې دي. د لوړو زده کړو مدیر. د معارف په وزارت کې د باندنیو اړیکو مشر. د مخابراتو په وزارت کې د پلان جوړونې/ اداري چارو رئـیس.

**غلام نبي ناشر**

د شیر خان خروټي زوی په ۱۹۲۷ز کال کې په قره باغ کې زېږېدلی دئ؛ شیر خان خروټی د ۱۹۲۰ او ۱۹۳۰ز لسیزو په اوږدو کې د قطغن یو لوی څمکوال وو. د ولسي جرګې په یولسمې دورې کې له کندز څخه د ولسي جرګې غړی. د ۱۹۶۴ز کال کې د لویې جرګې غړی. د ۱۹۷۰ز لیسزې په لومړیو کې وفات سو.

**غلام سرور ناشر**

د خروټي د قبیلې د شیرخان خروټي پرګتی یا ناسکه زوی. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د سپین زر د مالوچو د کمپنی رئـیس. ظاهر شاه ته نـېږدې سړی وو او په کندز او تخار کې یو مخور سړی وو. په ۱۹۷۳ز کال کې د داؤود د واکمنی پر مهال زنداني سو. ,حفیظ الله امین چې په خپله یو خروټی وو, ناشر ته د خلقیانو د واکمنی په پیل کې په ۱۹۷۸ز کال کې اجازه ورکړه چې له هېـواده دباندې لاړ سي. په ۱۹۴۹ز کال کې ئـې له یوې نیمه جرمني مـېـرمن مریم عمر سره وادهٔ وکړ. په ۱۹۸۴ز کال کې په جرمني کې وفات سو.

**نور بیا**

**مـحمد شریف نسیم پروان**

د غلام قادر زوی په ۱۹۲۳ز کال کې زېـږېـدلی دئ. په ۱۹۳۳ز کال کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ